مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۹/۰۸/۱۸

# د استقلال ورځ او «ایوب تدبیر»

**د استقلال د ورځې په پار مې خپل دا شعر مخکې هم یو ځل خپور کړی و، خو څه چې ما غوښتي دي، نه یوازې هغه نه دي شوي؛ بلکې نور هم حالات بد شوي دي. اوس خپل دا شعر د حالاتو د ښه کېدو په تمه یو ځل بیا د اسد د اته ویشتمې نېټې په مناسبت خپروم.**

بـیـا د ایـوب پـر تـوره ګـرد پـریـوت ځلا غـواړي
د مـلالـۍ د تـنـدي ټـیـک نـوې رنـا غـواړي

خوار خلک رنځ ګالي جـفا ده په هر لوري خوره
بـل څـه شی نه غواړي، بیوزلي بس وفا غواړي

اهـریـمن راغی جام په لاس د وینو غوړپ ته تیار
رګـو کـې ویـنـه وچـه شـوې ده سزا غـواړي

افغان زلمي تـر چا جاریږي خـدایـه څه وشول دا
هـغـه چې ګـور ته دي تګونکي، بـیـا بقا غـواړي

دغـه ټـوپـک بـم راکـتـونـه بـه تـر څو لـوبـوو
لـوی ښامـاران بیـا د عیسی هـغـه امسا غـواړي

ښامـاران بـیـا ژامي چیچي د مـلالی خـورکـۍ تـه
د اکبر زړه ایـوب تـدبیر یو ځـلي بـیـا غـواړي

دوی ته یو ډال د عـقیدې ښه لوی په لاس ورغلی
خـو دوی کافر دي یـو هـادي او انـبیـا غـواړي

هیدرسلبف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ